# د موسیقی جادو: د Marbut Traditional Theme ښوونځي کې د زده کونکو د سواد زده کړې مهارتونو پیاوړي کولو لپاره د Hip-Hop موسیقي شاملول

اوریدلو څخه خوند اخلي خو د Hip-Hopمه کلیزه لمانځي، ډیری زده کونکي د عصري 50 خپله Hip-Hopلکه څنګه چې ژمن Andre Mountain ښوونځي مدیر Marbut Traditional Themeدي د مخکښ تاریخ په اړه معلومات نلري. د دی چې دغه بدلون رامنځته کړي او د دې پروسې پرمهال د خپلو زده کونکو د سواد زده کړې وړتیاوې لوړې کړي.

مدیر Mountain او د هغه ټیم په بریالیتوب سره د *Hip-Hop سواد زده کړې لابراتوار* د Harvard پوهنتون دHipHopEX لابراتوارپراساس تاسیس کړ. دا د افریقایی الاصله امریکایي ادبیاتو او هنرونو د زده کړې پر اساس ولاړ یو تولګی دی چې د سواد زده کړې پر بنسټ ولاړو فعالیتونو ټینګار کوي. زده کونکي په تخلیقي لیکنو، د کتاب مطالعې، او نورو تعلیمي فرصتونو کي بوخت دي چې د Hip-Hop هنرونو لخوا وړاندې کیدای شي. د *Hip-Hop سواد زده کړې لابراتوار* وروستی هدف د فارغ او سیمه ییز عالي ښوونځي زده کونکو ته یو پلیټ فارم چمتو کول دي چې د زده کړې په بیلابیلو چاپیریالونو کې د Hip-Hop هنرونو پراخه ظرفیت ولټوي او تجربه یېکړي.

دا لابراتوار د زده کونکو او ښوونکو لپاره یو ښه ځای دی ترڅو د سواد زده کړې، ښاري او د ځوانانو کلتور او ټولنیز عدالت په څیر موضوعات پیل او په اړه یې بحث وکړي. د مدیرMountain لخوا د وړاندې شوي وضاحت له مخې هر څوک کولی شي چې په بحثونو کې د ښکیلتیا، د اړونده موادو لوستلو او هنر رامنځته کولو له لارې د ګډې مرستې او تعلیمي تجربې څخه ګټه پورته کړي.

"Hip-Hop عصري شاعري ده؛ دا ادبیات دي او موږ غواړو چې په هغه څه کې پانګونه وکړو چې زده کونکو ته ګټه رسوي. Mountain وویل چې زموږ د ډیری زده کونکو د Hip-Hop کلتور سره مینه پیدا شوې او ورته په کلکه لیواله دي ". د یو ښوونځي په توګه موږ دا یو فرصت ګڼو ترڅو د زده کونکو ښکیلتیا زیاته کړو او په نصاب کې د ښته موادو کیفیت ښه کړو. نو له همدې امله موږ په نصاب کې هغه ډول مواد زیاتوو کوم چې به د زده کونکو لپاره خورا زړه راښکونکي وي.

دا لابراتوار تیر کال هغه وخت پیل شو کله چې زده کونکي د COVID-19 وبا د بندیزونو وروسته ښوونځي ته راستانه شول. د ښوونځي کارمندان د لوست سره د زده کونکو مینه بیا ژوندۍ کولو لپاره د یوې اغیزمنې لارې په لټه کې وو. د لابراتوار دې مفکورې د زده کونکو ښکیلتیا زیاتولو لپاره د کامیابۍ یو احتمالي فرصت وړاندې کړ. د دې ساده مفکورې له لارې یو نامستعمل ټولګی پر یو خوځنده ځای بدل شو چې د هنرمندانو لخوا د Hip-Hop د لمانځنې په پوسترونو او هنري کارونو سره یې انځورګري شوی وه.

Mountain وویل "چې کله موږ د دې ټولګي څخه لیدنه کوو نو تاسو ته به د کوټې په شاوخوا کې د ښاري کلتور نمایندګي او افریقایی الاصله امریکایانو تجربه تر سترګو کیږي." "دا هغه څه دي چې موږ د خپلو ماشومانو لپاره غوښتل – یو داسې لابراتوار چیرې چې دوی کولی شي یو څه تخلیق کړي، ورڅخه خطاګانې رامنځته شي، خبرې اترې او بحثونه وکړي. دا منظم ټولګی نه دی؛ دا په یو ځانګړي عنعنوي ښوونځي کې یو څه خورا غیر عنعنوي دي."

روزونکي هڅول کیږي چې د دې فرصت څخه ګټه پورته کړي ترڅو خپل زده کونکي لابراتوار ته د تګ لپاره راجستر کړي. دوی دا اختیار لري چې درس پخپله رهبري کړي یا هم د مرستې لپاره یو بل ښوونکي راوبلي. د میډیا سنټر مرستیال هم د زده کونکو سره د هغوی د سواد اړتیاوو په پوره کولو کې د مرستې لپاره شتون لري. زده کونکي به د دې تجربې په جریان کې د Hip-Hop په تاریخ کې ارزښتناکه پوهه ترلاسه کړي او خپلې هنري وړتیاوې به روښانه کړي. دوی دا فرصت هم لري چې د Atlanta څخه د مشهور Hip-Hop هنرمندانو سندرې تحلیل کړي ترڅو د ځایي دود سره سم د زده کړې هر اړخیز فرصت چمتو کړي.

Mountain وویل چې "د Atlanta هنرمندان په میټرو Atlanta کې د یو لویېدونکي ځوان د ژوند په څیر د ریښتیني ټولنیزو ستونزو په اړه خبرې کوي." "موږ نه غواړو چې یواځې هغه څه ته درناوی وکړو چې په Bronx کې د Hip-Hop پر بنسټ رامنځته شوی بلکه هغه اثر ته هم درناوی کوو چې د Atlanta له لارې د Hip-Hop په کلتور کې رامنځته شوی دی."

د پنځم ټولګي زده کونکي London Christen او Jase Kurtz له هغه څه خوند اخلي چې د *Hip-Hop سواد زده کړې لابراتوار* یې وړاندې کوي.

"زه له دې څخه خوند اخلم ځکه چې موږ باید د Hip-Hop په اړه ډیر څه زده کړو. London وویل چې کله تاسو څیړنه کوئ چې د Hip-Hop څه معنی لري نو دا به تاسو ته اصلي معنی څرګنده نه کړي". "تاسو باید دا پخپله زده کړئ او تجربه یې کړئ."

Jase وویل "زه د تور پوستو تاریخ سره مینه لرم او Hip-Hop تور پوستو رامنځته کړی". "نو زه لابراتوار ته راتلل خوښوم. زه د Hip-Hop په اړه زده کړه خوښوم. دا په ریښتیا سره په زړه پوری دی."

د مدیر Mountain د وینا له مخې د لابراتوار موخه د نورو ښوونځیو هڅول دي ترڅو د زده کړې داسې ځانګړي ځایونه رامنځته کړي چې د زده کونکو نوښت او زده کړې ته وده ورکړي.

هغه وویل چې "اصل هدف د نورو ښوونځیو هڅول دي ترڅو د خپل نصاب او هغه څه په اړه فکر وکړي چې تاسو یې وړاندې کولی شئ." "دا ممکن د Hip-Hop لابراتوار پرته یو داسې څه وي چې د زده کونکي لیوالتیا ته به تحریک ورکړي تر څو هغه موضوعات په تفصیل سره وپلټي چې دوی یې زده کوي".

XXX